ابراهیم نعیمي ۲۰۱۱/۰۷/۳۱

# افغان ولس سوله غواړی که جګړه ؟

دوهمه برخه

د (۲۰۱۱زکال) د سپټمبر د میاشتي یولسمه نیټه هغه ورځ ده چي ترسړې جګړې وروسته په نړیواله کچه ستر بدلون رامنځته شو. لویدیز اروپایي هیوادونه چي په سرکي امریکاوه د بنسټپالو ګوندونو په مقابل کي په ځانګړې توګه د القاعدي سره چي لاربښوونه یې عربي الاصله او سامابن لادن کول، د ټکرډګرته په بیړه لکه دوه پهلوانان راووتل. دا ځل تاو تریخوالی ځانګړې او بیله بڼه لري. یولورې د نړی سوپر طاقتونو خو مقابل لورې یوازې مذهبي عقاید او یاد مذهبي عقایدو  څخه ګټه اخیستنه د لځو لغړو ولسونوهځونه د جګړې وډګرته ګډل کیدای شي. مخکي له دی نه چي د موضوع وتل ته ورننوزم. دواړه لورې به په لنډ ډول تاسو ته در وپیژنم :

اوسامابن لادن اوملاتړي یې

کله چي دومه نړیواله جګړه په (۱۹۴۵زکال) پای ته ورسیده، نړی په اساسي توګه پردؤ اړخونو وویشل شول.

۱ ـ ختیزیاني سوسیالیستي بلاک د شوروي اتحاد ترمشری لاندي

۲ ـ لویدیزیاني کپیټالسیتي هیوادونه د امریکا ترمشری لاندي

دواړو بلاکونو په نوی بڼو د نړي د فقیرو هیوادونو د مهارکولو لپاره هڅي او کوښښونه پیل کړل چي زه یې د تفصیل څخه ډه ډه کوم.

د دواړو طاقتونو ترمنځ  شخړه د سړې جګړې په نامه وپیژندل شول.

په نړی کي اسلامي ګوندونه مخکي رامنځته شوې ول. خو لویدیزو هیوادونو د امریکا ترمشری لاندي د نورو هڅو په بغل کي مسلمانان د پخواني شوروي اتحاد پرضد لمسول. په دغه توګه یې په کراره د تمدن او چټکو تخنیکي پرمختګونو څخه کرکه ډیره شوه. د اسلامي ګوندونو د مبارزې تیره څوکه شوروي اتحاد او دهغوي ملاتړوته متوجه وه چي د لویدیزو هیوادونو لخوایي هم تریوې کچي ملاتړ کیده. کله چي په (۱۳۴۳ لیږدیز لمریزکال) په افغانستان کي اساسي  قانون جوړ شو. د سیاسي ګوندونو د جوړولو لپاره په نیمه رسمي ډول لار پرانیستل شول. په دی ترځ کي کیڼ اړخي، منځلاری او اسلامي بنسټپاله ګوندونه جوړ شول. د اسلامي بنسټپالو ګوندونو په جوړولو کي غلام محمدنیازي، برهان الدین رباني (د سولي د عالي شورا اوسنی مشر)، عبدالرسول سیاف (د ولسي جرګي اوسنی غړی) رغنده رول درلود. او په فعالینوکي ګلبدین حکمتیار د اسلامي ګوندمشر، احمدشاه مسعود ( مړدی)، حبیب الرحمن (مړدی)، ډاکټرعمر ا ونورو ډیره اغیزه درلوده. د همهاغه وخت څخه لویدیزو هیوادونو د اسلامي ګوندونوسره تریوې کچي مرستي کولي چي په مقابل کي پخواني شوروي اتحاد او نورو سوسیالیستي هیوادونو د خپلوملاتړوسره مرستي کولي. په افغانستان کي دغه بهیر د سرولښکرو تریرغل پوری په پرتلیزه توګه همد اډول دوام درلود. کله چي پرافغانستان د(۱۳۵۸ لیږدیز لمریزکال) د لیندی د میاشتي په شپږ. ماښام توره تیاره خپره شوه او د افغانستان پراستقلال او د مځکي پربشپړ تمامیت سرولښکرو یرغل وکړ. د پولي ها خوا د افغانستان د اسلامي ګوندمشرانو چي د دوادخان د جمهوریت په دوران کي تښتیدلي ول، د پاکستان د ځارګرې ادارې په مستقیمه لارښونه یې په فعالیت باندي پیل وکړ. په (۱۳۵۹لیږدیز لمریزکال) د امریکا ترمشری لاندې لویدیزو اروپایي او اسلامي هیوادونو د پاکستان د ځارګرې ادارې له لاري په مرستوپیل وکړ. د دی مرستولویه برخه وژونکي وسلې وې. هیره دی نه وی چي د شوروی اتحاد لوری هم په لویه کچه د وخت دولت ته وژونکی وسلي ورکولې په حقیقت کي د دو مخالفو نظامونو د جګړې ډګرافغانستان وه. زما د بحث اصلی موضوع داده چي :

ـ د بنسټپالو ګوندونو وده او دنشه ای توکو په عاملوکي د افغانانواو که د بهرنیانواغیزه ډیره وه ؟

ـ ایا د افغانان ول چي جګړه یې غوښتل که د بهرنه زموږ پرولس جګړه وتپول شول ؟

پورته دو پوښتنوته به په ځواب ویلوپیل وکړم :

احمد رشید د پاکستان پیژندل شوی ژورنالیست د خپل کتاب (طالبان او افغانستان) په (۱۹۴ – ۱۹۵) پاڼوکي چي په ډنمارکي ژبه ژباړل شوی دی په دی اړوند لیکلی دی، ولولئ :

« د سي ای اې ریس ویلیم کیسي پریکړه وکړه چي د پاکستان د ځارګرې ادارې پخوانی ابتکار چي په (۱۹۸۲زکال) کي وړاندی کړی وه، ومنی. هغه داوه: د ټولي نړی بنسټپال به پاکستان ته را وبولو چي د افغاني مجاهدینو ترڅنګ په افغانستان کي جګړه وکړي. د پاکستان د وخت ولسمشر جنرال ضیاالحق په دی اندوه چي د نړی بنسټپال د پاکستان ترمشری لاندې راټول کړی نو به په مرکزی اسیاکي یو اسلامي غورځنګ جوړکړی. امریکا غوښتل چي د نړی ټول اسلامي هیوادونه د امریکا ترمشری لاندی د افغانستان د حکومت او دشوروی اتحاد پرضد جګړه وکړی ... پاکستان



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

خپلو سفارتونوته په ټوله نړۍ کې لاربښوونه وکړه چې ټولو اسلامي بنسټپالوته چې په افغانستان کې جګړه وکړی، بيله پوښتنې ويزه ورکړی ... لنډه دا چې د لسو (۱۹۸۲ – ۱۹۹۲ ز) کلونو په موده کې (۳۵۰۰۰) کسان د (۴۳) هيوادونوڅخه چې د نړۍ په مختلفو بنسټپالو ګوندونو پورې تړاو درلود، پاکستان ته راغلل. د وخت په تيريدو سره دا شميره (۱۰۰۰۰۰) کسانوته جګه شوه ... ددوی په منځ کې اوسامابن لادن هم شامل وه. د دغوهيوادونو څخه يوه هم دا فکرنه وه کړی چې بنسټپال به خپلې موخې لری ا و دخپلو موخو د بريالیتوب لپاره به يوورځ د دوی پرضدو سلوته لاس واچوي .»

يادونه :

د پورته کره معلومات وڅخه څرګنديږي چې لويديزو هيوادونو د پاکستان په مشوره او د امريکا د څارګرې ادارې په لاربښوونه د نړۍ بنسټپال يوازي د خپل سيال شوروي اتحاد د نړولو لپاره راټول کړل. دوی ته د ميليونونو افغانانو قرباني ورکول کوم ځانګړي ارزښت نه درلود ا ونه يې هم فکر ورباندې خراب وو. دا ټولې بدبختياني يې زموږ خوار ولس او د نړۍ ولسونوته راوړي خود حيرت ځای دادی چې پېره پرافغان ولس او يا د نړۍ پرمسلمانانوتپي. که نن د طالبانو څخه شکايت کوی هم بې ځايه پلمه ده. که امريکا دا نه مني چې دوی د طالبانو سره مستقيمي مرستي کړی دی، د پاکستان مسقيمه ونډه خو به د طالبانو په پياوړتياکې مني؟ ايا پاکستان د امريکا د ډيرو کلونو متحد او همکار او حتی ګوډاګی نه دی؟ دا خو ترلمرسپينه خبره ده. د دی فورمولې څخه په ښکاره څرګنديږي چې د طالبانو د غورځنګ په پياوړتيا او بيايه نسکورولو کې د امريکا مسقيم لاس وه اودی. اوس لاهم خدای خبرچې د رواني ډرامې څخه موخې څه دی يانې د پردې ترشاه څه جريان لری.

دومې پوښتنې ته به په راتلونکې برخه کې ځوابونه ولټوم. پای نوربيا...



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ